دَ ختم نبوت اهمیت په باره کښې

لیکلی شوی ښکلې نظمونه

# ختم نبوت

## زنده باد

## (پښتو نظمونه)


لیکوال

مولانا محمد علي مرداني

یونیورستي روډ خوره بانډه مردان


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم اللّٰه الرحمٰن الرحیم

وصلی اللّٰه علی النّبیّ الامّی

وصلی اللّٰه علی النّبیّ الامّی

وصلی اللّٰه علی النّبیّ الامّی

وصلی اللّٰه علی النّبیّ الامّی

وصلی اللّٰه علی النّبیّ الامّی

وصلی اللّٰه علی النّبیّ الامّی

وصلی اللّٰه علی النّبیّ الامّی

وصلی اللّٰه علی النّبیّ الامّی

وصلی اللّٰه علی النّبیّ الامّی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دَ ختمِ نبوت دَ عقیدې تبلیغ

…………… (نظم)……………

پکار دی مسلمان لره په پټه او په جار
دَ ختمِ نبوت دَ عقیدې پوره پرچار
ذمه زمونږ دَ ټولو دا هرخوا دَ مشرانو
ذمه زمونږ دَ ټولو په دُنیا دَ کشرانو
لازم دی یادول دا عقیده، دغه ګفتار
دَ ختمِ نبوت دَ عقیدې پوره پرچار
ذمه دَ ټولو خلقو دا ذمه دَ علماء
دا کار کوی په شوق دلته دُنیا کښې اولیاء
په جمع دوی له دې نه هرطرف ته وی نثار
دَ ختمِ نبوت دَ عقیدې پوره پرچار
ذمه دَ هراستاذ دَ هرشاګرد په هرقدم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساکن کۀ عرب وی یا ساکن وی دَ عجم
غریب ئې ذمه دار دے دا ذمه دَ هر مالدار
دَ ختمِ نبوت دَ عقیدې پوره پرچار
لازم په هر شاعر دی چې دفاع اُوکړې ددې
تبلیغ په هر مقام اُوکړی ددغې عقیدې
د دین سره احمدعلی دَ مینې دے اظهار
دَ ختمِ نبوت دَ عقیدې پوره پرچار

لیکوال

# مولانا احمدعلی مردانی

ساکن خوره بانډه مردان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عقیده خوشبو خوشبو

................(نظم)................

دَ ختم نبوت دا عقیـده خوشبو خوشبو
ثابت له اٰیاتونو ګلدسته خوشبو خوشبو
دلیـل دے ښـه ښـکاره بیان دَ سورتِ احزاب
پـه ډیـرو اٰیاتو کښـې راغلـے دَ کتاب
هرڅوك وائـی حق هریوه جمله خوشبو خوشبو
دَ ختم نبوت دا عقیـده خوشبو خوشبو
فرمان دَ پیغمبر ښکاره واضح ښه دَ جهان
خبر لـه هر دلیـل نـه هرطرف ته مسلمان
مدام کـوی خوندونه تذکره خوشبو خوشبو
دَ ختم نبوت دا عقیـده خوشبو خوشبو
اجمـاع پـه دې خبـره دَ اصحابو دَ نبي ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library

مــنــی دغــه خبــره د دُنیــا هــریــو ولــی
مـحشـر کښـې لری ښه لویه بدله خوشبو خوشبو
دَ ختـم نبـوت دا عـقیـده خـوشبو خوشبو
پـه دې بـانـدې ایـمان لری احمدعلی مدام
حـضـور ﷺ بـانـدې دُنیا کښې سلسله دَ نور تمام
دَنـور دَ رسـالت ده سلسله خوشبو خوشبو
دَ ختـم نبـوت دا عـقیـده خـوشبو خوشبو

لیـکوال

# مولانا احمدعلی مردانی

ساکن خوره بانډه مردان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دَ ختمِ نبوت ثبوت

................... (نظم) ......................

شك نشته مسلمان یاد ساته دغي وینا کښي
بل نشته دے نبي په محمد ﷺ پسے دُنیا کښي
اٰیت دا دَ قران ښکاره ښودلے دے سبق
مولا دَ ټول جهان ښکاره ښودلے دے سبق
مومنه ! ټل اُسیږمه دا اسلام په اقتدا کښي
بل نشته دے نبي په محمد ﷺ پسے دُنیا کښي
قراٰن نه پس حدیث کښي دَ نبي ﷺ دغه بیان دے
دَ ختمِ نبوت دَ عقیدې ښکاره بُرهان دے
هم دا به پکاریږي په محشر کښي په عقبیٰ کښي
بل نشته دے نبي په محمد ﷺ پسے دُنیا کښي
اجماع دَ صحابهٌ په دې دلیل دلته کښي دریم دے
اجماع اعلا درنه په دې دلیل دلته کښي دریم دے
احمدعلی صادق دے ښه پوره په مُدعیٰ کښي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل نشته دے نبی په محمد ﷺ پسے دُنیا کښې

لیکوال

# مولانا احمدعلی مردانی

ساکن خوره بانډه مردان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کار دَ عقیدۀ ختمِ نبوت

..............( نظم )...............

نـورانـي صـفـت تـول هـغـه کَـس وي اُوچت
تــل دَ ختــمِ نبــوت کــوي چــي خـدمـت
عــقـيــده دا اعــلا پــوخ زمــا دے يـقـيـن
عقيـدو کښـي ښـکلـي، ښـۀ بالا بهتـرين
بُـنيــادي عـقيـده دَ اسـلام شــريـعــت
نبــي ﷺ ســره هــرخــوا تعلق محبـت
نـورانـي صـفـت تـول هـغـه کَـس وي اُوچت
تــل دَ ختــمِ نبــوت کــوي چــي خـدمـت
پــه قـراٰن کښـي ښـکـاره عقيـده دا بيـان
دا هــمـــه حــصـــه دَ هــرچــا دَ ايـمـان
پــه هـرچـا دي لازم دا يـقـيـن هرسـاعت
دا سبــب دَ عــزت ، دا سبـب عـظـمـت

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورانی صفت تهول هغه کَس وی اُوچت

تل دَ ختمِ نبوت کوی چې خدمت

حدیثونو کښې دا عقیده ده بیان

ښه واضحه ښکاره دلته کښې په جهان

آخری نبی تل ، آخری دا اُمَت

دا کتاب آخری دَ سر سیوري رحمت

نورانی صفت تهول هغه کَس وی اُوچت

تل دَ ختمِ نبوت کوی چې خدمت

سلسله بنده دا ، په دې شوې اجماع

یاد ساته دا وینا ، په دې شوې اجماع

باقي دې سره دے دَ اسلام عمارت

باقی دې سره دے دَ حضور ﷺ دَ هرسنت

نورانی صفت تهول هغه کَس وی اُوچت

تل دَ ختمِ نبوت کوی چې خدمت

سلسله نورانی بنده بنده تمام

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلسله ابدي اُوس دَ وحي مدام
دروازه بنده بنده دَ نور رسالت
دروازه بنده بنده دَ نور نبوت
نوراني صفت تول هغه کَس وی اُوچت
تل دَ ختمِ نبوت کوی چې خدمت
ډیر عظیم اُوچت کار دفاع دلته ددې
احمد وائی په جار، سکون دلته په کښې
کار هر خواته مدام دَ سکون دَ راحت
خپل نبی ﷺ سره دې دَ مینې علامت
نوراني صفت تول هغه کَس وی اُوچت
تل دَ ختمِ نبوت کوی چې خدمت

لیکوال

# مولانا احمدعلی مردانی

ساکن خوره بانډه مردان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مینه دَ ختمِ نبوت سره

## ...............نظم...............

مینــــــه لازم ده شــریـعــت ســـره
مینـــــــه دَ ختــمِ نبــوت ســـره
مینــــه دَ حــق ســره بُشــکلا راولــی
پـــه تــن دا حُســن دَ هــرچــا راولـــی
مینـه چـې وی نبـی حـضـرت ﷺ سره
مینـــــــه دَ ختــمِ نبــوت ســـره
مینــــه کتــاب ســره لازم دلتــــه ده
هــرحــق خـطــاب ســره لازم دلتــه ده
مینــــــه پــکـــار ده تــلاوت ســـره
مینـــــــه دَ ختــمِ نبــوت ســـره
دَ زړهٔ قـــرار دَ زړهٔ ســـکـــون راولــــی
مینـه پــه زړهٔ چــې دَ مجنــون راولـی

(c) ketabton.com: The Digital Library

میــــنـــــه لازم ده حــقیــقـــت ســـره
میـــنــــــه دَ ختـــم نبـــوت ســـره
میـنــه نـفــرت ختموی هـرطـرف تــه
زنگ کُـدورت ختـمــوی هــرطــرف تــه
میــــنـــــه لازم ده صـــداقـــت ســـره
میـــنــــــه دَ ختـــم نبـــوت ســـره
خــوشبــو خــوشبــو دا پـــه هـرخـوا راولـی
احــمـــده ! ژونـد کښـې نــوررنـا راولـی
میــنـــه پـــه هــر مــقـــام سـنـت سره
میـــنــــــه دَ ختـــم نبـــوت ســـره

لیکوال

# مولانا احمدعلی مردانی

ساکن خوره بانډه مردان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دفاع دَ ختمِ نبوت به کوُم

## ........(نظم)..........

د دین اسلام مدام خدمت به کوُم
دَ فاع دَ ختمِ نبوت به کوُم
تل اقتدا دَ هر سنت به کوُم
دَ فاع دَ ختمِ نبوت به کوُم
دفاع ئي دلته دَ سکون سبب دے
دَ راحتونو دَ ژوندون سبب دے
وفا ورسره هر ساعت به کوُم
دَ فاع دَ ختمِ نبوت به کوُم
ثابت قرآن نه عقيده دغه ده
له حق بيان نه عقيده دغه ده
مدام دَ پاك نبي ﷺ صفت به کوُم

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ فــــاع دَ ختــم نبــوت بـــه کــوم
پــه حــديثـونـو کښـې ښکــاره بيــان ده
دا عــقيــده پــه هــر حــصــه بيــان ده
قــدر ددې عــظيــم دولــت بـــه کــوم
دَ فــــاع دَ ختــم نبــوت بـــه کــوم
پــه دې يَــو شـوی صحــابــهٔ دَ نبی ﷺ
صديقؓ ، عمرؓ ، عثمان او حضرت عليؓ
قــدر دَ اجــمــاع اُمّــت بـــه کــوم
دَ فــــاع دَ ختــم نبــوت بـــه کــوم
دفــاع دَ ديــن پــه هــر بشــر لازمــی
ســاتــل يــقيــن پــه هــر بشــر لازمــی
ورســره زړهٔ کښــې مــحبــت بــه کــوم
دَ فــــاع دَ ختــم نبــوت بـــه کــوم
بــدلــه ددې ده جــنتــونــه ښــکــلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

لـري بـدلـه ښـه نعـمتـونـه ښـکـلي
مـدام دفـاع دَ شـريـعـت بـه کـوُم
دَ فـاع دَ ختـمِ نبـوت بـه کـوُم
ثـواب پـه دي کښـي دَ مـحشـر دَ پـاره
ثـواب احـمـده ! هـر بشـر دَ پـاره
اقتـدا تـل دَ پـاك حـضـرت ﷺ بـه کوُم
دَ فـاع دَ ختـمِ نبـوت بـه کـوُم
دفـاع دَ حـق نـورانيـت بـه کـوُم
دَ فـاع دَ ختـمِ نبـوت بـه کـوُم

لیکوال

# مولانا احمدعلي مرداني

ساکن خوره بانډه مردان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# محمد رسول الله خاتم النبیین ﷺ

................. نظم .................

ختمه سلسله دَ نبوت په مصطفیٰ ﷺ ده
دا حـقـــه ویــنـــا ده ، عـقـیـده زمـــا ده
بنه واضحه دي باندي دلیل عظیم قرآن دے
ورسره دُنیا کښي نوراني دا ټول جهان دے
نیشته په کښي شك وینا حقه پوره صفا ده
ختمه سلسله دَ نبوت په مصطفیٰ ﷺ ده
سورتِ احزاب کښي ددي ذکر ښهٔ عیان دے
سورتِ احزاب کښي دَ مولا ښکاره اعلان دے
هـریـوفـقـره دَ حق کتاب حقه ریښتیا ده
ختمه سلسله دَ نبوت په مصطفیٰ ﷺ ده
ډیـر پـه حدیثـونو کښي بیان دغه تمام شته
ډیـر پـه حدیثو نو کښي واضحه دا پیغام شته
ښـکـلي عـقـیـده دا بُنیـادی دَ دیـن اسلام شتـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لَا نَبِیْ بَعْدِیْ » ځائې په ځائې په کښې صدا ده
ختمه سلسله دَ نبوت په مصطفیٰ ﷺ ده
دغه له اجماع نه هم ثابته په دُنیا کښې ده
ورسره دُنیا په هرطرف رڼا رڼا کښې ده
بس صرف جاری ئن سلسله دَ اولیاء ده
ختمه سلسله دَ نبوت په مصطفیٰ ﷺ ده
هریو محافظ ددې خبرې مسلمان دے
دې باندې احمده ! ستا پوره پوره ایمان دے
ختمه سلسله دَ رسالت دَ انبیاء ده
ختمه سلسله دَ نبوت په مصطفیٰ ﷺ ده

لیکوال

## مولانا احمدعلی مردانی

ساکن خوره بانډه مردان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عقيدهٔ ختمِ نبوت

## ..........(نظم)...........

دا مي عقيده ده ، زما دا ښکاره اعلان دے
ختم نبوت په محمد اٰخرزمان ﷺ دے
څنګ دا عقيده چي حديثونو کښي راغلے ده
څوك چي دي عاقله خامخاهغه منلے ده
سورتِ احزاب کښي بيان شوي دَ قراٰن دے
ختم نبوت په محمد اٰخرزمان ﷺ دے
نـه منـي ئـي دلتـه بس اغيـار ددي جهان
نـه منـي ئي دلتـه کښي کُفار ددي جهان
قائل هرطرف ته تل ددغي مسلمان دے
ختم نبوت په محمد اٰخرزمان ﷺ دے
دي سره محفوظ دی تول حکمونه دَ اسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورسره محفوظ دی اَیاتونه دَ کلام
رحم نازل شوي دي سره په هر مکان دے
ختم نبوت په محمد اٰخرزمان ﷺ دے
غټه وسیله تل دَ نجات دَ کامیابی ده
لویه ذریعه تل دَ سکون دَ خوشحالي ده
تا احمدعلی لیکلي ټول خائسته بیان دے
ختم نبوت په محمد اٰخرزمان ﷺ دے

لیکوال

## مولانا احمدعلی مردانی

ساکن خوره بانډه مردان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عقیدۀ ختمِ نبوت

...............(نظم)...............

اهمـه عـقیـده ده دَ اسـلام دَ شـریعـت
دا ختـــمِ نبـــوت ، دا ختـــمِ نبـــوت
یـو سل نه زیات قرآن کښې دلیلونه آیاتونه
دوه سـوه نـه سیـوا پـه دي خبـره حدیثونـه
پـه دي سره ده بـنده سلسلـه دَ رسالت
اهمـه عـقیـده ده دَ اسـلام دَ شـریعـت
اجـماع دَ صـحـابـهؓ پـه دي خبره اول شوے
اجماع دَ صحابهؓ په دي خبره ده تل شوے
دَ پاك رسـول اللّٰه ﷺ اهم حصه ده دَ سیرت
اهمـه عـقیـده ده دَ اسـلام دَ شـریعـت
مـنکر ئي دے کافر دغه وینا حقه ریښتیا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دي باندي اجماع ددي اُمت دَ علماء ده
دَ پاك رسول الله ﷺ دَ ښکلي ذات دے لوئي صفت
اهمه عقيده ده دَ اسلام دَ شريعت
لازم دے ضروري دے په دي دلته کښي ايمان
احمدعلي واضحه ستا دے تول دغه بيان
دفاع ئي په لَور باندي کول دي عبادت
اهمه عقيده ده دَ اسلام دَ شريعت

ليکوال

## مولانا احمدعلي مرداني

ساکن خوره بانډه مردان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عقیدۀ ختمِ نبوت

نظم ... لیکوال : مولانا احمدعلی مردانی

خدمت دَ ختمِ نبوت دَ سعادت ذریعه
دَ مصطفیٰ ﷺ سره دَ مینې محبت ذریعه
ګڼه دُنیا کښې دَ محشر دَ اٰخرت ذریعه
دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ ده دَ قُربت ذریعه
راشه دا کار کوه سحروی کۀ مابنام دلته کښې
لري خدمت عزت هریوبُلند مقام دلته کښې
دَ زړۀ سکون دَ پاره لویه دَ راحت ذریعه
دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ ده دَ قُربت ذریعه
هم دَ کوثر اوُبو دَ پاره وسیله دغه ده
هریو عزت له دَ محشر بنه ذریعه دغه ده
خدمت دَ ختمِ نبوت دَ شفاعت ذریعه
دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ ده دَ قُربت ذریعه
رنګ په رنګ ډیرې طریقې دَ عبادت راغلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

رنګ په رنګ ډېرې طریقې اطاعت راغلی
عبادتونو کښې اهم دَ عبادت ذریعه
دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ ده دَ قُربت ذریعه
ورسره سر مدام اُوچت وی چې نبی ﷺ لره ځی
ورسره تل به په عزت وی چې نبی ﷺ لره ځی
ښه دَ ګټلو په دُنیا کښې دَ جنت ذریعه
دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ ده دَ قُربت ذریعه
ښه دَ نیکو دَ ثوابونو وسیله ده لویه
دَ راحتونو دَ حُصول ښه ذریعه ده لویه
دَ ثوابونو دَ ګټلو هر ساعت ذریعه
دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ ده دَ قُربت ذریعه
ډېره دَ فخر دا خبره په هرخوا دلته کښې
خدمت دَ ختمِ نبوت په دې دُنیا دلته کښې
ده په دُنیا کښې دَ انسان دَ سعادت ذریعه
دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ ده دَ قُربت ذریعه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عقیده ختمِ نبوت

## ...........(نظم)...........

حسین دی محفلونه واه دَ ختمِ نبوت
نعتونه ، تقریرونه واه دَ ختمِ نبوت
قرآن کښې ذکر ښکلې په ښهٔ شان لری مدام
قرآن کښې ذکر ښکلې دَ جانان ﷺ لری تمام
ډیر زیات دی دلیلونه واه دَ ختمِ نبوت
قرآن کښې ایاتونه واه دَ ختمِ نبوت
فرمان دَ پیغمبر دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ
په دې خبره دلته هرحدیث پوره ګواه
دوه سوه حدیثونه واه دَ ختمِ نبوت
لعلونه یا ګلونه واه دَ ختمِ نبوت
اجماع دَ صحابهؓ ددې خبرې کړې تائید
دلیل دغه ښکاره دلته کښې یاد ساته مزید

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښـکـاره دي پټ رازونـه واه دَ ختم نبوت
اعـلا درانـهٔ ا درسـونـه واه دَ ختم نبوت
ورسره ده محفوظ هريو ادا دَ پيغمبر ﷺ
ورسره ده محفوظ هريو وينا دَ پيغمبر ﷺ
دا تـول دي بـرکتـونـه واه دَ ختم نبوت
درانـه دي تـول کـارونـه واه دَ ختم نبوت
پـه جـارتـولـو تـه وايـمـه احمدعلي مدام
بـاريـارتـولـو تـه وايـمـه احمدعلي تمام
درانـه درانـه لـفـظـونـه واه دَ ختم نبوت
قـربـان شـه دا سَـرونـه واه دَ ختم نبوت

ليکوال

## مولانا احمدعلي مرداني

ساکن خوره بانډه مردان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دَ عقیده ختمِ نبوت دفاع

## ............نظم............

عاقل سرِي دَ ختمِ نبوت کوی دفاع
په شوق سره مدام دَ شریعت کوی دفاع
دفاع په حقیقت کښي دا دَ سلو ایاتونو
دفاع په حقیقت کښي دا ډیرو حدیثونو
دفاع په حقیقت کښي دا دَ لویو دلیلونو
بیدار سړي بیدار وی هرساعت کوی دفاع
په شوق سره مدام دَ شریعت کوی دفاع
دفاع دَ حدیثونو څنګ چي دلته کړي په جار
دفاع دغه شان دلته دَ اصحابؓ ده دَ اثار
هوښیار سړي دفاع ته هرساعت اُوسی تیار
عاقل په هر قدم دَهرسنت کوی دفاع

(c) ketabton.com: The Digital Library

په شوق سره مدام دَ شريعت کوی دفاع

دا کار دَ هر صالح ددې دُنيا په هر قدم

ذمه دَ هريو فرد ده دا خبره زهٔ منم

په توره کۀ دفاع وی يا دفاع ده په قلم

هر څوك دې دلته تل دَ حقيقت کوی دفاع

په شوق سره مدام دَ شريعت کوی دفاع

په دې سره باقی زمونږه دين زمونږ اسلام

په دې سره باقی زمونږ موجود ښکلې نظام

په دې سره باقی زمونږ په تن کښې دے آرام

احمد څکه مدام دَ صداقت کوی دفاع

په شوق سره مدام دَ شريعت کوی دفاع

.....................................

تمت بحمد اللّه وبتوفيقهٖ

وصلی اللّٰه تعالیٰ علیٰ خيرِ خلقهٖ محمد واٰله

واصحابه اجمعين. آمين

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**